# 1,000,000

پروفیسورعبدالخالق رشید

09-03-2018

## پیام تبریکیه به مناسبت تجلیل از بازدید 1000,000 نفر در (AGO)

## افغان – جرمن د یوه سالم او ملي افغاني هویت فرهنګي استازې

دخوشالی خبره ده چې د افغان – جرمن دلیدونکو شمیر تریوه ملیونو تنو ور هغه خوا شو، افغان – جرمن برښنایی پاڼه دخپلې ملي اومعیاري ادبي تګلارې له مخې دخپل نشراتي بهیر په ترڅ کې دعلمي او فرهنګي او تاریخي مطالبو په خپرولو سره وکولای شول چې د زیاتو پښتو اوفارسي ویونکو پاملرنه په هیواد کې د ننه اوله هیواده دباندې ور واړوي ، دغې ملي او فرهنګي خپرونې دخپلې سالمې خپرنی تګلارې ترڅنګ وکولای شول چې لوستونکو او لیدونکو ته د هغوی پر ذوق او ضرورت برابر مطالب خپاره او په واک کې یې ورکړي . افغان – جرمن دخپل اوچت ادبي ماهیت له مخې نن خپل ځای نه یوازې زموږ دملي ژبو په برخه کې موندلی بلکې د نړیوالو ژبو او خپرونو کې یې خپل علمي او فرهنګي ځای دځان کړی . موږ کولای شو چې ددغې خپرونې له لارې دنړیوال فرهنګ او علمي بریاوو بهیر ته هم ځان ورسوو . زما په اند :



افغان – جرمن خپرونه ، دمعیاري ژبو په زړه پورې او معیاري پاڼګه ده ،

افغان جرمن د پښتو او دری شعر په زړه پورې هسکه شمله ،

افغان جرمن د معاصر کیسې او داستان اوچته استازې .

افغان – جرمن دافغانستان د تاریخ رښتینې تشریح او دتاریخي حقایقو رښتیني هنګامه ده ،

افغان جرمن د روڼ اندو او مترقي افکارو روښانتیا ده ،

افغان جرمن د یوه سالم او ملي افغاني هویت فرهنګی استازې ده ،

په دغو ټولو او اوچتو بریاوو کې ورته د لابریو اوسرلوړیو په هیله.